# د ډاکټر محمد اعظم اعظم په شاعرۍ کښې " حزن و یاس "

**Melancholy and Pessimism in the Poetry of Dr Muhammad Azam Azam**

محمد سلېمان *

نورمحمد دانش بېټنی•

**Abstract:**

Dr. Muhammad Azam Azam is a prominent figure of 20th Century of Pashto Poetry. He has remained on various administrative Posts but basically he was a Poet and a drama Writer. His Poetry surpasses of prose. His collected poetry was published in the name " Junoon and Jawndoon".There are many many aspects of his poetry but melancholy and pessimism are the two main aspects of his poetry as he faced enormous problems and death of his dear ones in his life. This paper is an attempt to draw a picture of his melancholic and pessimistic aspects of his poetry in his poems as well as in his ghazals with examples.

**Key words:** Dr. Azam, Poetry, Pashto, Language, Sadness.

د اردو ژبې نامتو لیکوال مختار مسعود په خپل مشهور زمانه "آواز دوست" کښې لیکي.

" چې د شلمې صدۍ وړومبۍ څلور لسیزې د شاعرانو او ادیبانو د معیار دپاره ډېرې خوش بختې وې ـ د کال نولس سوه پنځوس نه پس معیاري کتابونه مخې ته رانغلل ـ ښاغلي مختارمسعود دغه خبره د اردو ادب په حواله کړې ده ـ ولې د پښتو ادب په حواله چې د کال ۱۹۵۰ء پورې د پښتو کوم شاعران ادیبان وزېږېدل، د هغوي سیال او مثال په پښتو شعر و ادب کښې موندل ډېر ګران دي ـ په دغه پښتو شاعرانو ادیبانو کښې یو ډاکټر اعظم صېب هم دی ـ څوک چې په ۲۰ دسمبر ۱۹۴۰ء کښې د چارسدې په مشهور کلي رځړو کښې د حېدرخان محمدزي کره پېدا شوی وۀ ".(1)

ډاکټر محمد اعظم اعظم که هر څو د پښتو شعر و ادب په حواله یو همه ګیر او همه جهت شخصیت وو، ولې په بنیادي طور هغه یو شاعر وو او د نورو ډېرو حوالو سره سره د هغۀ د ادبي مقام ستره حواله هم د هغۀ شاعري وه ـ اخونزاده مسافر د ډاکټر محمد اعظم اعظم د شاعرۍ په حقله لیکي:

" ښاغلی اعظم چې د خپل مخصوص ادبي لیک له کبله ئې په درسته پښتونخوا کښې د شهرت ازانګې تر لرې لرې خورې شوي دي ، د رېډیو او ټي.وي نه په یو وخت د دوي کلام نشر کېږي چې په عوامو کښې ډېر مقبولیت لري ـ "(2)

اجمل خټک د اعظم صېب د شاعرۍ متعلق لیکي:

* Ph.D. Scholar, Pashto Academy, University of Peshawer

• Assistant Professor, Pashto Academy, University of Peshawer

" د یو شاعر په حېث د هغۀ د کلام د دې ځانګړې مجموعې " چنون او ژوندون " د چاپ کېدو نه مخکښې هم د اعظم شاعرۍ د رېډیو او ټي.وي له کبله په اولس کښې دومره شهرت او مقبولیت موندی وو چې دهغې مثال ډېرکم موندی شي."(3)

د ډاکټر اعظم د شاعرۍ د دغه مقبولیت په شا چې کوم غټ محرکات وو په هغو کښې د هغۀ د خیال د لوړوالي او د ښکلو او سپېځلو ټکو د چوڼ سره سره د هغۀ په شاعرۍ کښې د غم او یاس د هغه احساس صحیح او پوره ترجماني هم شامله ده ، کوم چې د پښتنو په مزاج کښې د زمانو راسې شامل راروان دی او کوم چې په پښتو شاعرۍ کښې د شاعر سوز پېدا کولو قوت او طاقت لري ـ د انګرېزۍ ژبې مشهور شاعر شېلې هم په دې اړه وائي چې زمونږ په ژوند کښې دوامي نغمې هغه دي په کوم کښې چې سوز او درد وي ـ

ځکه چې وړاندې اشاره وشوه چې د پښتنو په مزاج کښې یو نامعلوم احساسِ محرومي او مایوسي لېدی شي، د کوم ترجماني چې چا هم کړې ده ، پښتنو هغه شاعري په زړونو پورې نیولې ده ـ د ډاکټرمحمداعظم اعظم د سوزانده شاعرۍ له کبله چې هغۀ د پښتنو په زمکه کوم شهرت او مقبولیت بیا موندی دی ، د هغې مثال خصوصاً په جدیده شاعرۍ کښې ډېر کم موندی کېږي او لیدی کېږي ـ اعظم صېب هم د یو ائېډیل تصور درلودو لکه :

نۀ زمانې نۀ مو دنیا ته کتل
بس چې ما تاته او تا ما ته کتل(4)

زندګي که د غمونو توره شپه ده
ستا له مخه د امېد بله ډیوه ده(5)

د زړۀ ارام راځنې چرته ورې
د زړۀ ارامه چرته ځه مه راځه(6)

رابه شي د زړۀ په لاره رابه شي
پېښې په ژوندو دي د ژوندو لارې(7)

دغسې دغه احساس د ډاکټراعظم په شاعرۍ کښې وخت په وخت او ځای په ځای لیدل کېږي خو بیا هم غم، محرومي او نا امېدي بار بار د هغۀ په شاعرۍ کښې د هغۀ د خیال لمن رانیسي او هغه په دې مجبوروي چې دا قسم شعرونه د هغۀ د اظهار له عمله راتېر کړي:

ژوند څۀ دی د وصال یوه نیمګړې تمنا ده
په اوښکو اسوېلو او په سلګو کښې اوسېدل(8)

بیا سینه کښې ستا یادونه په چپو دي
بیا د سترګو سېلابونه په ختو دي(9)

غم مو سترګو کښې وچېږي نۀ په زړۀ کښې
دا د مینې سرمایه مو اماني ده(10)

ژوند که اماني شوې حادثې د غم
غم مې دې په زړۀ کښې اماني ګرځي(11)

هم دغه درد ، کرب او غم دی چې د اعظم صېب د زړۀ د جذباتو او احساساتو سره سره د هغۀ د کېفیاتو او حالاتو دومره کوټلې او سپېڅلې نمائندګي کوي چې د هغۀ شعر ئې سینګار کړی هم دی او پائېدار کړی هم ـ د هغۀ دغه حُزن او یاس اګرچې هغۀ اظهار کړی او تکرار کړی دی خو د دغه انفرادي کېفیت په پس منظر کښې مونږ ته د هغۀ د سوچ او فکر افاقیت او عالمګیریت صفا په نظر راځي ـ دغسې هغه د غمِ جانان سره سره د غمِ دوران یو داسې نمائنده شاعر ګرځي چې په خپلو شعرونو کښې د وختونو د نبضونو حالونه په داسې زړۀ راکښونکې انداز کښې بیانوي چې هر بنیادم ئې د خپلو جذباتو او احساساتو اظهار ګڼي لکه:

چا پسې روان شُو امام چرته دی
خلق بدلوي لمحه لمحه قبله(12)

هر یو زخم مې خولۀ کړې ده په زړۀ کښې
د فریاد ژبه که نۀ لرمه خولۀ کښې(13)

کوم یو منشور دی چې د مینې نه وفا بېلوي
کوم یو منصور دی چې د دار د سره ځار نۀ شي(14)

د ژوندون په هره لاره لکه سوړ اسوېلی تېر شوم
په قدم قدم تاؤدۀ وو ستا د حسن محفلونه(15)

اعظم صېب حقیقت نګار وو او د حقیقت نګارۍ کومه فریضه چې د یو شاعر په حېث هغه ترسره کړې ده ، هغه یوه داسې مهینه، دلنشینه، رنګینه او غمګینه پېرایه لري ـ د کومې په سبب چې هغه د پښتو شاعرۍ په دې اوږد او خور روایت کښې یو رجحان ساز او روایت ساز ادبي شخصیت ثابت شو ـ اګرچې هغه د ترقي پسند تحریک سره براه راست نۀ وو تړلی شوی خو بالواسطه هغه د ترقي پسندۍ د حقیقت نګارۍ د روایت سره خپل فکر تړلی او ګنډلی وو ـ د یو شاعر په حېث د هغۀ تربیت ، د هغۀ د وېنا مطابق مفلس دراني کړې وو لکه:

" د شاعرۍ اثر راته د شمس الدين مفلس دراني صېب نه لګېدلی دی۔ "(16)

او د ښاغلي مصطفی کمال د وېنا مطابق مفلس دراني د نوميالي ترقي پسند صنوبر حسېن کاکاجي د اثر او تربيت لاندې هلې ځلې کولې ... او بل اړخ ته قلندر مومند، چې د پښتو ترقي پسند ادب په حواله يو لوی نوم دی، هم د اعظم صېب په ادبي تربيت کښې لوی کردار لوبولی دی. په خپله د ډاکټر اعظم صېب وېنا ده : " د ترقي پسندۍ مطلب او معنی هم حقيقت نګاري ده۔ "(17)

نو په دغه حواله ډاکټر اعظم يو حقيقت نګار وو او د ژوند ترخو حقيقتونو هغه د حزن و ياس نه په ډکو شعرونو وئيلو مجبور کړی وو. چونکې ترقي پسندي په عامه توګه د طبقاتي شعور په سيوري وده بيا مومي. نو اعظم صېب هم د طبقاتي معاشرې وير او غم په ډېر پُراثر انداز کښې ژړلی او وړاندې کړی دی لکه:

په چمن کښې تخم ځۀ شي او ګل ځۀ شي
نوم د چا وشي او خاورې شي د چا نوم(18)

د ماليارانو خواري اوس هم د بل لاسو ته ځي
د ګل چينانو طريقې بدلې شوې نۀ دي(19)

سره د دې چې د اعظم صېب سوچ او فکر وخت تر وخته په ځۀ نه ځۀ حواله او وسيله روزلی شوی وو، ولې د هغۀ په شاعرۍ کښې د حزن و ياس په شا د هغۀ د ژوند معروضي حالات ډېر په شدت سره محسوسېږي. ځکه چې دا درد او کرب يو ډېر سنجيده او د زړۀ د تل نه راپورته شوی عمل دی. دا به ووايو چې د اعظم صېب په شاعرۍ کښې د فطرتي حزن و ياس د رابرڅېره کولو دپاره قدرت د هغۀ په ژوند کښې له اوله داسې دردېدلي حالات او واقعات ورګډ کړل، چې وروستو پرې د هغۀ د شاعرۍ د ځانګړي سوز د انګازو د خورولو ستره مناره ودرېده. د خپل ژوند دغه حالاتو او واقعاتو ته هغۀ ځۀ داسې اشاره کړې ده:

" زما خو ټول ژوند د المياتي واقعو نه ډک دی ... د ځلورو کالو وم چې مور مې مړه شوه. چې په زمانو پس مې وادۀ وکړو نو ښځه مې مړه شوه. زوی مې مړ شو. په خپله ايله زلمی وم چې پلار مې مړ شو او د کورنۍ ټولې ذمه وارۍ مې په سر شوې. چې په ژوند کښې مې د کوم کسانو څخه ځۀ توقعات وو هغه هم پوره نۀ شو. غرض دا چې ځۀ معاشرتي محرومۍ، ځۀ زما خپلې محرومۍ، خو هر وخت د ځۀ نه ځۀ الميې سره مخ راغلی يم۔ "(20)

د دغو ذکر شوو حالاتو په رڼا کښې که مونږ د ډاکټر اعظم د حزن و ياس د شاعرۍ نفسياتي مطالعه کوو نو مونږ ډېر په اسانه په دې نتيجه رسو چې د هغۀ د شاعرۍ په پېرايه کښې د هغۀ ذاتي او انفرادي الميې او مسئلې د هغۀ د عمر سره سره په عالمي او کائناتي الميو او مسئلو کښې داخلې

شوې دي او بيا دغه الميې او مسئلې په داسې انداز کښې د هغۀ د شعر په لاره د ادب مېدان ته راوتې دي چې د پښتنو څۀ چې د کلهمو انسانانو د حالاتو او جذباتو نمائندګي کوي او د شاعرۍ د کائناتي سوچ او اپروچ ترجماني هم لکه:

طوفان کښې د حالاتو را د زلفو کمندونه
سرونه زۀ د مرګ او د ژوندون سره ترِمه(21)

د زړۀ په للمه که هر څوک شي خاوندان د ګلو
خوروونکي پرې د وينو د باران مونږه يُو(22)

دغه کوم قانون وو د انصاف په ايوانونو کښې
ما کرلې مينه وه او ما رېبلې وينه ده(23)

خولې ګنډلې خو سينو کښې قيامتونه
څۀ به واورې د ژوندون حکايتونه(24)

دغسې د وړاندې ذکر شوو غزليه شعرونو نه علاوه د اعظم صېب په نظمونو کښې هم د حزن و ياس د تفسيرونو تصويرونه جوت ليدی شي ۔ په دې حواله د هغۀ " ښکالو"، " رخصت " ، " تۀ ولې ژاړې" ، " د ارمانونو ګله "، " ياد " ، "تصوير" ، " احتجاج " ، " سوچونه " ، "کله کله " ، "تېر سپرلي ته " ، " شکست " ، " رنګونه " ، "تنده " ، " مصور " ، "ګل " ، " نابلده کلی " ، " زېړ ګلی " ، " دائره " ، " يو تصوير يو منظر " ، "ګوډمار" ، " سوراړا " ، "ګورګوره " او " پرون او نن " نومې نظمونه د حزن و ياس نه ډک داسې شاعرانه شاهکارونه دي چې زړۀ د جذباتو سره سره په کښې د ډېر دردېدلو احساساتو او ناوياته حيالاتو داسې مصالحه ګډه ده چې خوند ئې په رنګ او رنګ ئې په خوند سېوا دی۔

دا هم د ډاکټر اعظم کمال دی چې هغۀ د ژوند دردونه هم دومره خواږۀ کړي دي چې په بيان کښې ئې د موسيقيت او غنائيت ځانګړي اهنګونه د بنده احساس په ځان پورې کلک نيسي او که مونږ د ډاکټر اعظم د کلام هر څومره خوبۍ په خيال کښې اوساتو ولې د هغۀ د شاعرۍ د سوز په حقله هم يوه نقطه په ګوته کولې شو چې د هغۀ حزن و ياس هم د هغۀ په شاعرۍ کښې د سوز محرکات ګرځېدلي دي ۔لنډه دا چې د اعظم صېب په شاعرۍ کښې حزن و ياس زمونږ د پښتو د الميه شاعرۍ اثاثه او سرمايه ده۔

## حوالې

(1) . مصطفیٰ کمال، ډاکټرمحمداعظم اعظم (ژوند ، شخصیت او فن)،ملت ایجوکېشنل سروسز،چارسده،۲۰۱۲ء، مخ ۱۲
(2) . فرمان مسافر،اخونزاده، د پښتو ادب ځلنده ستوري، مکتبه اباسین، چارسده، ۱۹۸٤ء،مخ۱۲۱
(3) . خټک،اجمل، ډاکټراعظم د چنون نه تر ژوندونه،مشموله جنون او ژوندون،یونیورسټي پبلېشرز، پېښور،۲۰۰۸ء،مخ
(4) . اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، جنون او ژوندون، یونیورسټي پبلېشرز، پېښور،۲۰۰۸ء،مخ ٥۰
(5) . همدغه، مخ ٥٤
(6) . همدغه،مخ ۸٥
(7) . همدغه، مخ ۱۳۰
(8) . همدغه، مخ ٦۱
(9) . همدغه، مخ ٦۲
(10) . همدغه، مخ ٦٥
(11). همدغه، مخ ۷۸
(12) . همدغه، مخ ٥۷
(13) . همدغه، مخ ۹٥
(14) . همدغه، مخ ۱٤٤
(15) . همدغه، مخ ٥٦
(16) . مصطفیٰ کمال، ډاکټرمحمداعظم اعظم (ژوند ، شخصیت او فن)، مخ ٦٥
(17) . همدغه، مخ ۷٦
(18) . اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، جنون او ژوندون، مخ۲۰۰
(19) . همدغه، مخ ۱۹۰
(20) . زبیر، حضرت زبیر، صابر،صاحب شاه، د ژوندون په لویه لاره، مشموله ، درې میاشتینۍ ګل بڼ، اکسار منزل، مردان، اپریل،جون ۱۹۹۸ء، مخ۲۹
(21) . اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، جنون او ژوندون، مخ ٦۸
(22) . همدغه، مخ ۸۲
(23) . همدغه، مخ ۱٤۳
(24) . همدغه، مخ ۱٥۲